# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## خبرپاڼه

دریم کال - لومړۍ ګڼه | پرله‌پسې ۶۳مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۵/۰۱/۱۳



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

۱- ایراني بار وړونکو موټرچلوونکو ته د ویزې معافیت؛ د سوداګرۍ د اسانتیا په موخه اغېزناک ګام

۲- د وطني غالیو صادرات؛ د کارموندنې او اقتصادي ودې زیری

۳- د ۵۱۴ میلیونه ډالرو هوکړه‌لیکونه؛ د پانګونې، تولید او دوه اړخیزې سوداګرۍ پراختیا

## ایراني بار وړونکو موټر چلوونکو ته د ویزې معافیت؛ د سوداګرۍ د اسانتیا په موخه اغېزناک ګام

د هرات د سیمه ییزو مسوولینو په وینا، ایراني موټر چلوونکي نور د اسلام کلا بندر له لارې د مالونو د تخلیې له پاره ویزې ته اړتیا نه لري. دا پرېکړه د افغانستان اسلامي امارت د کابینې له لوري شوې چې پر بنسټ یې د ایراني ترانزیتي وسایطو له پاره بې ویزې تګ راتګ او د روډ پاس معافیت منظور شوی دی.

د اسلام کلا بندر له لارې د ایراني وسایطو له پاره منظور شوی معافیت د افغانستان د ترانزیتي او سوداګریز سیاست په برخه کې یو مهم اقتصادي ګام بلل کېږي.

دغه ګام به د ترانسپورتي لګښتونو په مستقیم ډول راکمولو کې اغېزناک ثابت شي. مخکې به د ویزې او روډ پاس د اخیستلو بهیر وخت نیوه او ترڅنګ به یې مالي مصارف درلودل، خو د دې پروسې اسانولو سره به د مالونو د لېږد بهیر چټک شي، د سوداګرو په مجموعي لګښت به مثبت اغېز هم وکړي او سربېره پر دې به وخت هم سپما شي.



د لګښتونو کمښت به هېواد ته د وارداتي توکو په بیو کې د کموالي لامل شي. د اسلامي امارت له لوري دا نوی ګام به د افغانستان په بازارونو کې لا ډېر ثبات رامنځته کړي. سربېره پر دې، د دې نوي ګام تر ټولو مهمه اقتصادي ګټه د دواړو هېوادونو ترمنځ لا زیاتو سوداګریزو اړیکو پراختیا ته زمینه برابروي.

اسلامي امارت د خپلې اقتصاد محوره پالیسۍ پر بنسټ له ټولو هېوادونو سره مثبتې اړیکې غواړي او هڅه کوي چې د سیمه ییز اتصال په وړاندې ستونزې او خنډونه د صفر کچې پورې راټیټ کړي.

## د وطني غالیو صادرات؛ د کارموندنې او اقتصادي ودې زیری

د صنعت او سوداګرۍ وزارت د معلوماتو له مخې، د صادراتو په وړاندې پرتې ستونزې تر ډېره حل شوې او بدیلې لارې موندل شوې دي، چې له امله یې د تېر کال په پرتله د صادراتو کچه لوړه شوې ده. د مسوولینو په وینا، د ۲۰۲۵ کال په اوږدو کې د څه باندې ۱۸ میلیونه ډالرو په ارزښت وطني غالۍ او ټغر بهر ته صادر شوي دي، چې دا د افغانستان د وطني تولیداتو په برخه کې د پام وړ اقتصادي پرمختګ ښیي. د افغانستان غالۍ او ټغر په نړۍ کې ځانګړی نوم او ارزښت او د عالي کیفیت لرلو له امله په نړۍ کې لوړه تقاضا لري. د غالیو صنعت د افغانستان له مهمو اقتصادي سکتورونو دی، چې اوسمهال شاوخوا ۱٫۲ میلیون هېوادوال په کې په کار بوخت دي. بهر ته د افغانستان د غالیو د صادراتو زیاتوالی نه یوازې د بهرنیو اسعارو د جذب لامل کېږي، بلکې په کور دننه د تولیدي فعالیتونو دوام او پراختیا پیاوړې کوي. د صادراتو د بازارونو



له پراختیا سره په هېواد کې پانګونه زیاتېږي، چې دا چاره په کارموندنې مستقیم اغېز پرېباسي. د افغانستان غالیو د صادراتو د کچې زیاتوالی د هېواد د اقتصادي ودې له پاره یو ښه زیری دی. په وروستیو کې چې له ګاونډیو هېوادونو د کډوالو بهیر چټک شوی، نو د غالیو د صادرونکو په وینا، تمه کېږي چې د دې صنعت اړوند به ډېر مسلکي خلک هېواد ته راشي، چې له امله به یې یاد صنعت لا ډېره وده وکړي. د افغانستان اسلامي امارت د غالیو او تغرو صنعت پر وړاندې پرتې ډېرې ستونزې حل کړې، چې له امله یې یاد صنعت په هېواد کې ډېر غوړېدلی او د صادراتو کچه ورسره لوړه شوې ده.

## د ۵۱۴ میلیونه ډالرو هوکړه‌لیکونه؛ د پانګونې، تولید او دوه اړخیزې سوداګرۍ پراختیا

د افغانستان او ازبیکستان د خصوصي سکتورونو ترمنځ د ۵۱۴،۸۰ میلیونه ډالرو په ارزښت د هوکړه لیکونو لاسلیک د سیمه ییز اقتصادي تعامل په برخه کې یو ستر پرمختګ دی. دا هوکړه لیکونه د افغانستان اسلامي امارت د صنعت او سوداګرۍ وزیر نورالدین عزیزي او د ازبیکستان د نمنګان ولایت د والي شوکت عبدالرزاقوف په حضور کې لاسلیک شوي دي. دغه هوکړې د بېلابېلو تولیدي او سوداګریزو برخو لکه د چرګانو فارمونو جوړولو، سیمنټو، ډبرو سکرو، وچو مېوو او سبو صادراتو، د تېلو او خوراکي توکو وارداتو، اسفالټ، مسو او نورو برخو کې شوي دي. دا هوکړې د هېواد دننه د چرګانو فارمونو او سیمنټو په څېر سکتورونو له پاره مهمې دي. له دې سره به په افغانستان کې د چرګانو او سیمنټو تولیدات زیات شي او تر ټولو مهمه دا چې د وارداتو مخه به ونیول شي. په افغانستان کې په وروستیو کې د چرګانو او سیمنټو تولید ته ډېره توجه شوې ده. د چرګانو د تولید ګڼ فارمونه جوړ شوي او د سیمنټو د تولید یو شمېر فابریکې ترکار لاندې دي، خو د دې له پاره چې بشپړې ځان بسیاني او نورو هېوادونو ته صادرات ولرو، نو په دې سکتورونو کې نورې پانګونې ته اړتیا شته. د ازبیکستان د خصوصي سکتور له لوري په افغانستان کې پانګونه به نه یوازې افغانستان ځان بسیاینې ته نږدې کړي، بلکې د کاري فرصتونو ایجاد کې به هم مهم رول ولوبوي.

